# I-730 فورمه، د پناه غوښتونکي د خپلوانو غوښتنليک يا عريضه

## د افغان اتباعو لپاره چې د پناه غوښتونکي يا (Asylee) حالت لري

Migration and Refugee Services
Renewing Hope. Seeking Justice.
UNITED STATES CONFERENCE OF CATHOLIC BISHOPS

### اووم قدم

**آمريکا ته سفر**

که چيرې ويزه صادره شي، کډه اخيستونکی به متحده ايالاتو ته د سفر کولو وړ وي ترڅو د عريضې کونکي سره د پناه مشتق غوښتونکي په توګه يوځای شي.

### شپږم قدم

**پريکړه**

په بهر کې د مصاحبې وروسته، افسر به يا (V92) ويزه تصويب کړي يا به USCIS ته د سپارښتنې سره فايل بيرته ورولیږي چې بايدI-730 رد شي.

په هر صورت، ياد لرئ که بالاخره ويزه تصويب هم شي، موضوع بيا هم اداري پروسس ته ځي چې کيدای شي له مرکې وروسته هم څو اونۍ يا مياشتې وخت ونيسي

### پنځم قدم

**مصاحبه**

سفارت يا قونسلګري به د دوسيې بياکتنه وکړي او د کډه اخيستونکي لپاره د مصاحبې وخت تعين کړي. کډه اخيستونکی بايد مصاحبې ته حاضر شي او ټول اړين اسناد د بياکتنې لپاره راوړي.

### څلورم قدم

**د ويزې ملي مرکز (NVC)/قونسلي پروسه**

که USCIS، I-730 فورمه تصويب کړي، دوی به قضيه NVC ته واستوي. بيا NVC به دوسيه د نورو پروسس لپاره يو بهرني دفتر (سفارت، قونسلګرۍ، يا د USCIS بهرنی دفتر) ته ولیږدوي.

### دريم قدم

**قضاوت**

USCIS ته د غوښتنليک بستې له سپارلو وروسته، تاسو به يو رسيد ترلاسه کړئ، کوم چې تاسو بايد خوندي وساتئ. وروسته، USCIS کولی شي د شواهدو لپاره غوښتنه (RFE) يا د انکار کولو ارادي خبرتيا (NOID) تصويب يا صادر کړي. په ځواب کې، ستاسو قانوني استازی به د RFE يا NOID ځواب وليږي. په نهايت کې، USCIS به غوښتنليک تصويب يا رد کړي.

### دوهم قدم

**غوښتنليک**

د خپل غوښتنليک په اړه د وکيل يا د DOJ اعتبار لرونکي استازي څخه مرسته وغواړئ:

- د I-730 فورمه، د پناه غوښتونکي د خپلوانو غوښتنليک يا عريضه؛
- د G-28 فورمه، د وکيل يا اعتبارلرونکي استازي په توګه د حاضريدو خبرتيا؛
- Cover Letter;
- د پناه غوښتونکي د وضعيت ثبوت:
  - د I-94 فورمه چې د پناه غوښتونکي حيثيت درکوي؛
  - د USCIS د پناه غوښتنې تصويب خبرتيا يا د محکمې حکم؛
  - د کار اجازې سند يا (EAD)؛
- د کډه اخيستونکي سره د اړيکو ثبوت:
  - نکاح خط؛
  - د زيږون سند؛
- د هويت ثبوت:
  - پاسپورت؛
  - تذکره؛
- د هر کډه اخيستونکي لپاره د پاسپورت سټايل عکس.

### لومړی قدم

**تياری**

داړ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپل او هر کډه اخيستونکي لپاره ټول اړين اسناد راټول کړي:

- د I-94 فورمه چې د پناه غوښتونکي حيثيت درکوي؛
- د USCIS د پناه غوښتنې تصويب خبرتيا يا د محکمې حکم؛
- د کار اجازې سند يا (EAD)
- پاسپورت؛
- تذکره؛
- نکاح خط؛
- د زيږون سند؛
- عکس.

د لا زياتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د لاندې لينکونو نه ليدنه وکړئ :
https://www.uscis.gov/i-730
https://travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/follow-to-join-refugees-and-asylees.html